# باچا خان چوک کوهاټ

# پاملرنه غواړي

**فیروزخان صادق**

څو کاله وړاندې چې د عوامي نېشنل پارټۍ کوهاټ د مقامي مشرانو او کونسلرانو په هلوځلو په کوهاټ کښې د مشهور پېښور چوک نوم بدل کړے شو او باچا خان چوک باندې موسوم شو نو د پارټۍ هر کارکن او د بابا فخر افغان باچا خان هر مداح ډېر زیات خوشحاله ؤ، ځکه چې دا د یو ژوندي باشعوره او بهادر قوم نخښنه ده چې د خپلو اتلانو او قهرمانانو نومونه او یادګارونه ژوندي او خوندي وساتي. هم په دې اساس د پارټۍ د مشرانو په کوششونو حکومت د پېښور چوک نوم بدل کړو او نوے نوم ئې پرې باچا خان چوک کېښودو بیا د څۀ مودې تېرېدو نه پس د یادګار په توګه په دغه چوک کښې د باچا خان مجسمې د پاره یوه بُرجۍ هم جوړه کړې شوه او په ډېره سست رفتارۍ سره پرې کار روان ؤ. داسې معلومېده لکه چې د دې منصوبې د پاره بېخي کمې پیسې ټکې ایښودې شوې وې او بیا د دې منصوبې معیار هم ډېر کم ؤ او بېخي د باچا خان شایان شان نۀ ؤ خو بیا هم د عوامي نېشنل پارټۍ کارکنان خوشحاله وو چې د بابا په نوم یو چوک جوړ شو او داسې ئې ګڼله چې لکه د باچا خان چوک پېښور به دا منصوبه هم په ښۀ معیار سر ته ورسولې شي او دلته به د باچا خان مجسمه او ورسره چمن او دغسې نور ضروري لوازمات په وجود کښې راشي خو پنځۀ کاله وړاندې چې دغه منصوبه په کوم ځائے ولاړه وه نن هم په هغه حال کښې ده، حال دا دے چې په ۲۰۰۸ء کښې د انتخاباتو په نتیجه کښې په صوبه کښې په وړومبي ځل د عوامي نېشنل پارټۍ مضبوط حکومت راغلو او د پاکستان پیپلز پارټۍ سره ئې په شریکه حکومت جوړ کړو بیا د صوبې د وزارت اعلي چوکۍ هم د اې این پي په برخه کښې ورسېده.

د کوهاټ نه د قامي اسمبلۍ غړے پیر دلاور شاه هم د اې این پي په ټکټ منتخب کړے شو چې دا د کوهاټ نه د قومي اسمبلۍ د پاره واحد سیټ دے دغسې د صوبائي اسمبلۍ غړے امجد خان اپریدے هم چې په ازاد حېثیت ئې چوکۍ ګټلې وه خو په بنیادي توګه د اې این پي سړے ؤ او د الېکشن ګټلو نه پس د نوي سره اې این پي کښې شامل شو او وزارت هم ورکړے شو بیا د زنانؤ مخصوصو نشستونو کښې هم د اې این پي ممبره محترمه خورشید بېګم د قامي اسمبلې د پاره غوره کړې شوه، غرض دا چې په کوهاټ کښې د عوامي نېشنل پارټۍ ښۀ واضحه اکثریت او قوت رامنځته شو او بیا دا دے تقریباً یو نیم کال حکومت ئې هم وچلېدو. په دې دوران کښې یادو شوو ممبرانو ګڼ ترقیاتي کارونه ترسره کړل چې د اې این پي تختۍ

پرې ولګېدې ان تر دې چې مېرمن خورشيد بېګم ايم اين اې خو دومره کارونه وکړل چې ورته د "دختر کوهاټ" خطاب ورکړے شو او د نوموړې دا سفر لا روان دے په دې دوران کښې ئې د ښار په مينځ او اهم مقام کمپني باغ کښې د کوهاټ د شاعرانو اديبانو صحافيانو او نورو باشعوره خلقو او د پارټۍ د ورکرانو په غوښتنه د باچا خان ميموريل لائبرېرۍ جوړولو دپاره نۀ صرف دا چې د فنډ منظوري ورکړه، بلکې په دغه منصوبه ئې په باقاعده توګه کار هم شروع کړو چې پرانسته ئې خورشيد بېګم صاحبې په خپله وکړه، ورسره په دې لائبرېرۍ کښې د ايوب صابر په نوم حال او خوا کښې ورسره د پرېس کلب جوړولو فېصله ئې هم وکړه لنډه دا چې ډېر زيات کارونه ئې وکړل. د دې سره سم ايم اين اې پير دلاور شاه او صوبائي وزير ملک امجد خان اپريدي، ډاکټر اقبال فنا ايم پي اې د اې اين پي د مرستې اعلان کړے دے. غرض دا چې په هر لحاظ د عوامي نېشنل پارټۍ پوزيشن په کوهاټ کښې مضبوط او مستحکم دے خو د دې هر څۀ باوجود يوه خبره د غور او فکر وړ ده چې د باچا خان چوک هم په هغه زوړ حال کښې دے بلکې اوس خو بدتر صورت حال طرف ته روان دے ځکه چې کوم کار پرې شوے ؤ هغه نيمګړے ؤ چې اوس د ورانېدو او نړېدو ښکار دے او په چوک اوس د مختلفوکاروباري خلقو او تنظيمونو له اړخه بېنرې (لوحې) او پوسټرونه لګولے شي چې د باچا خان چوک ارزښت ئې له مېنځه وړے دے خو دا هم دومره د انديښنې خبره نۀ ده ځکه چې دا د پاکستاني قوم عادت او پېژندګلو ده او دا حال د هر چوک او دېوال دے البته يوه خبره د ډېرې انديښنې او پاملرنې وړ ده چې څو ورځې وړاندې په دغه چوک کښې د يو دوکاندار د طرف نه د ټرېفک پوليس دپاره يوه چترۍ نصب کړې شوې ده په کومې چې ليکلي شوي دي "ټرېفک پوليس پېښور چوک" حال دا دے چې د دې چوک سرکاري نوم باچا خان چوک دے خو ځينې خلق دا کوشش کوي چې خامخا دا چوک د پېښور چوک په نوم سره ياد کړي او خامخا يوه مسئله پېدا کړي. بل خوا د اې اين پي مقامي مشران په دې مسئله بېخي چپ شوي دي. نۀ ده معلومه چې هغوي دا دومره اهمه مسئله ولې نظر انداز کړې ده البته تېره ورځ د ساهو لېکونکي کوهاټ رجسټرډ په مياشتنۍ غونډه کښې د يو قرارداد په ذريعه د حکومت نه غوښتنه وشوه چې د باچا خان چوک په منصوبه دې زر تر زره لاس پورې کړے شي او د دې د حفاظت دپاره دې خصوصي انتظامات وکړے شي ورسره په چوک کښې لګېدلے د پېښور چوک نوم دې هم لرې کړے شي او دا دې په باچا خان چوک ونومولے شي.

په دې لړ کښې د پارټۍ يو اهم غړي سره هم رابطه شوې ده چې د لرې کولو او سمولو لوظ ئې کړے دے خو لا تر اوسه پورې خبره زړه په زړه ده ځکه نو يو ځل بيا د پښتونخوا د وزير اعلى اميرحېدرخان هوتي او د کوهاټ نه د پارټۍ منتخب شوو د قامي او صوبائي اسمبلو ممبرانو او د پارټۍ د مقامي مشرانو په تېره تېره د مېرمن خورشيد بېګم نه غوښتنه کېږي چې د باچا خان چوک کوهاټ ته دې پاملرنه وکړي او د دې چوک د نوم او سينګار مسئله دې هواره کړي او د دې چوک پاتې کار دې زر تر زره سرته ورسوي!